## مطبوعاتي اعلاميه

### په توقیف کې ساتل شوي کسان یا محاکمه کړئ یا یې په ضمانت او یا هم له ضمانت پرته ازاد کړئ

شاوخوا درې کلونه کېږي چې زموږ د حزب التحرير- تانزانيا درې غړي: رمضان موشي کاکوسو (۴۱)، وزيري سليمان (۳۳) او عمر سالوم بومبو (۵۱) اختطاف شول، تر څو په دوی پورې د ترهګريزو عملونو تور پورې کړي. د نورو جزياتو لپاره مهرباني وکړئ د ډېسمبر ۱۴مې نېټې مطبوعاتي اعلاميه ولولئ:

**http://www.hizb-ut-tahrir.info/en/index.php/press-releases/tanzania/14417.html**

د دريو غړو د توقيف په جريان کې، نه يوازې دوی يې له خپلو کورنيو، خپلوانو، ملګرو څخه ليرې کړل، بلکې پر دوی يې اقتصادي فعاليتونه هم ودرول. دوی همدا راز په ناوړه چاپېريال او غير انساني چاپېريال کې بند تجربه کوي، چې په ټوليزه توګه له مناسبو ټولنيزو اسانتياوو څخه بې برخې دي.

سربېره پر دې، دا ډېر د تأسف ځای دی چې د دوی قضيه په هرو دوو اونيو کې له ذکر کېدو پرته دوام مومي، پرته له دې چې د تېرو دريو کلونو راهيسي د شواهدو د نه پوره کېدو په پلمه يې محاکمه پيل کړي!

موږ په حزب التحرير- تانزانيا کې په کلکه ټينګار کوو چې زموږ غړي له شک پرته بې ګناه دي او له همدې امله د دوی د محاکمې اوربدلو په پيل کې تر دې دمه اعتماد او رضايت نشته. زموږ غړي او نور ډېر کسان چې د تانزانيا د امام شورا په وروستي سند (صفحه ۱۷-۲۵) کې يې يادونه شوې ده، يوازې د ترهګرۍ د مخنيوي قانون د تعصب قرباني دي، چې د زورواکو دولتونو له لوري مسلط شوی او د ظلم، ترور، شکنجې، اختطاف او نورو لپاره کارول کېږي.

موږ دا هم ټينګار کوو چې حزب التحرير په ۱۹۵۳م کال کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له منهج سره سم تاسيس شوی، چې له تاوتريخوالي پرته فکري او سياسي مبارزه کوي او کوم محدوديت ته اړتيا نه لري.

موږ په حزب التحرير- تانزانيا کې يو ځل بيا په تانزانيا کې د عدالت له ادارې سره د معاملې له ټولو اړخونو څخه غواړو چې د توقيف شوو د محاکمو لپاره محکمې ته د شواهدو په اضافه کولو سره د قضايي پروسې سره سم عمل وکړي، يا د زموږ درې غړي په ضمانت سره خوشي کړي، يا يې د هم ژر تر ژره ازاد کړي.

**مسعود میسلیم**

**د حزب التحریر- ولایه تانزانیا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۱هـ.ق، د ذوالقعدې ۳۰مه**

**۲۰۲۰م، د جولای ۲۱مه**

**د صدور گڼه: ۰۴/ ۱۴۴۱**